مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سرلوخ مرادزی

۲۰۲۰ / ۰۷ / ۰۱

خپله قبله

کاروان پر مخ ځي موږ په شا روان یوو
موږ له کاروان او قافلې پاتې یوو
کاشکې چې سیوري درلودلای سیوری
موږ لکه سیوری د غرمې پاتې یوو
هر یو جلا منزل ته منډې وهو
د لارې منځ کې په لانجې پاتې یوو
لومړی مزل کړو بیا منزل ټاکو موږ
هدف کې تل بې نتیجې پاتې یوو
قبله مالومه د عرب عجم ده
یوازې مونږه بې قبلې پاتې یوو
پسونه هم شپانه رهبر پسې ځي
موږ بې رهبره له پادې پاتې یوو
زانې هم یو لیکه یو بل پسې ځي
موږه د چا له اولادې پاتې یوو؟
زړه مې په داسې تربګنۍ ژړیږي
هم له حجرې هم له دېرې پاتې یوو
فام رهبر ټاکی، له اسمان نه راځي
موږ د اسمان په افسانې پاتې یوو
موږه ګیله مدام له نورو کوو
ولې د نورو په اسرې پاتې یوو؟
ولې دا نور له موږ ګیله نه کوي
موږ هم د نورو له ګیلې پاتې یوو!
ګیله هم هر وخت له یو چا کېدای شي
موږه ګیلو ته له بانې پاتې یوو
نه مو له ځان نه مو له بله زده کړل
هم له هغې او هم له دې پاتې یوو
نه مو تاریخ نه افسانه په کار شوه
هم له تاریخ هم افسانې پاتې یوو
کارغان به وخوري مو هوا کې غوښې
په سپین میدان له هدېرې پاتې یوو
که زموږ دا حال د زمان په دریځ وي
تل به له وخت او زمانې پاتې یوو
چې ځان راغونډ پر یو مرکز څو نکړو
داسې به ټوک ټوک او ټوټې پاتې یوو

شعروزمه خیالونه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ